دافغانستان اسلامي جمهوریت
دعدلیې وزارت

# رسمي جریده

- دتروریزم له تمویل څخه دمخنیوي دقانون په ځینو مادوکې تعدیل اوایزاد
- دپیسودوینځلواوله جرمونوڅخه دراپیدا شوو عوایدو دمخنیوي دقانون په ځینومادوکې تعدیل اوحذف
- په سرحدي ګمرکونوکې دپیسو، اسعارو اوبې نومه معاملې وړ سندونو دلېږددکنترول اورپوټ ورکونې مقرره
- دهوایي ډګرونواود ملکي هوایي چلند دتأسیساتودحق الاجرت دمقررې په ځینومادوکې تعدیل

- تعدیل وایزاددربرخی ازمواد قانون جلوگیری از تمویل تروریزم
- تعدیل وحذف دربرخی ازمواد قانون جلوگیری ازپول شویی وعواید ناشی از جرایم
- مقررهٔ کنترول وراپوردهی انتقال پول،اسعار واسناد قابل معامله بی اسم در گمرکات سرحدی
- تعدیل دربرخی از مواد مقررهٔ حق الاجرت میدان های هوائی وتأسیسات هوانوردی ملکی

دخپرېدونېټه:د۱۳۹۴ هـ.ش کال د وري دمیاشتې(۲۵)
پرله پسې نمبر: (۱۱۷۰)

تاریخ نشر:( ۲۵) حمل سال ۱۳۹۴ هـ . ش
نمبر مسلسل: (۱۱۷۰)

**در این شماره :**


- تعدیل وایزاد دربرخی ازمواد قانون جلـــوگیری از تمـــویل تروریـــزم ازصفحه (۱-۲).
- تعـدیل وحذف دربرخی ازمواد قـــانون جـــلوگیری ازپـــول شـــویی وعـــواید ناشـــی از جـــرایم صفحه (۳-۱۱).
- مقررهٔ کنترول وراپوردهی انتقال پـــول، اســعار واســناد قابــل معاملــه بی اسم در گمرکات سرحدی صفحه (۱۲-۲۸).
- تعدیل دربرخی از مواد مقررهٔ حق الاجرت میدان های هوائی وتأسیســات هوانوردی ملکی صفحه (۲۹-۳۳).
- مجموعهٔ صـــفحات ایـــن شـــماره بشـــمول ابجـــد، مـــتن و پشـــتی دارای (۴۷) صفحه.



| | |
|---|---|
| **د امتیـــاز خاوند:** | **دعدلیـــې وزارت** |
| **مسئول چلوونکی:** | **قانونمل محمدرحیم "دقیق"** |
| | **۰۷۰۰۵۸۷۴۵۷** |
| **د دفتر تیلفون:** | **۰۷۵۲۰۵۲۷۰۹** |
| **مرستیال:**نورعلم | **۰۷۰۰۱۴۷۱۷۸** |
| **مهتمـــم:**محمد جان | **۰۷۸۳۳۰٦۹۸۲** |
| **وب سایت:** | www.moj.gov.af |

**قیمت این شماره:** (۴۰) افغانی

**تیراژ چاپ:** (۳۰۰۰) جلد

**مطبعه:** بهیـــــر

آدرس:وزارت عدلیه، ریاست نشرات وارتباطعامه، چهارراهی پشتونستان

**د تروریزم له تمویل څخه د مخنیوي د قانون په ځینو مادو کې د تعدیل او ایزاد د توشیح په هکله د افغانستان اسلامي جمهوریت د رئیس تقنیني فرمان**

ګڼه: (۶۹)

نېټه: ۱۳/ ۱۲/ ۱۳۹۳

**لومړۍ ماده:**

د افغانستان د اساسي قانون د نهه اویایمې مادې د حکم له مخې د تروریزم له تمویل څخه د مخنیوي د قانون په ځینو مادو کې تعدیل او ایزاد چې د افغانستان اسلامي جمهوریت د کابینې په ۱۲/ ۱۲/ ۱۳۹۳ نېټې (۸) ګڼه غونډه کې تصویب شوي دي، توشیح کوم.

**دوه یمه ماده:**

د عدلیې وزیر او په پارلماني چارو کې د دولت وزیر مؤظف دي، دغه فرمان د ملي شورې د لومړنۍ غونډې د جوړېدو له نېټې څخه د (۳۰) ورځو مودې په ترڅ کې، هغې شورې ته وړاندې کړي.

**فرمان تقنینی رئیس جمهوری اسلامی افغانستان درمورد توشیح تعدیل و ایزاد برخی از مواد قانون جلوگیری از تمویل تروریزم**

شماره: (۶۹)

تاریخ: ۱۳۹۳/۱۲/۱۳

**مادهٔ اول:**

به تأسی ازحکم مادهٔ هفتادونهم قانون اساسی افغانستان تعدیل و ایزاد برخی از مواد قانون جلوگیری از تمویل تروریزم راکه، درجلسه شماره (۸) مؤرخ ۱۳۹۳/۱۲/۱۲ کابینه جمهوری اسلامی افغانستان تصویب گردیده است، توشیح می دارم.

**مادهٔ دوم:**

وزیرعدلیه و وزیردولت درامورپارلمانی مؤظف اند، این فرمان را درخلال مدت(۳۰) روز از تاریخ انعقاد نخستین جلسه شورای ملی، به آن شورا تقدیم نمایند.

**درېيمه ماده:**

دغه فرمان د توشېح له نېټې څخه نافذ او د کابينې له مصوبې او د نومورړي قــانون په ځينو مادو کې له تعديل او ايزاد سره يو ځای دې، په رسمي جرېده کې خپور شي.

**محمد اشرف غني**

**دافغانستان اسلامي جمهوريت رئيس**

**مادهٔ سوم:**

اين فرمان ازتاريخ توشيح نافذ وهمراه با مصوبه کابينه و تعديل و ايــزاد برخــی ازمواد قانون مذکور درجريدهٔ رســمی نشرگردد.

**محمد اشرف غنی**

**رئيس جمهوری اسلامی افغانستان**

**د تروريزم له تمويل څخه د مخنيوي د قانون په ځينو مادو کې د تعديل او ايزاد په هکله د افغانستان اسلامي جمهوريت د کابينې**

**مصوبه**

**ګڼه: (۸)**

**نېټه: ۱۲/ ۱۲/ ۱۳۹۳**

**د تروريزم له تمويل څخه د مخنيوي د قانون په ځينو موادو کې تعديل او ايزاد چې د افغانستان اسلامي جمهوريت د کابينې د ۱۲/ ۱۲/ ۱۳۹۳ نېټې په (۸) ګڼه غونډه کې، په (۳) مادو کې تصويب شوي دي، منظوروم.**

**محمد اشرف غني**

**دافغانستان اسلامي جمهوريت رئيس**

**مصوبهٔ کابینه جمهوری اسلامی افغانستان درموردتعدیل وایزاد برخی از مواد قانون جلوگیری از تمویل تروریزم**

**شماره: (۸)**

**تاریخ: ۱۳۹۳/۱۲/۱۲**

**تعدیل وایزاد برخی از مواد قانون جلوگیری ازتمویل تروریزم را که، درجلسه شماره (۸) مؤرخ ۱۳۹۳/۱۲/۱۲ کابینه جمهوری اسلامی افغانستان بداخل(۳) ماده تصویب گردیده است، منظورمی دارم.**

**محمد اشرف غنی**

**رئیس جمهوری اسلامی افغانستان**

## د تروریزم له تمویل څخه د مخنیوي د قانون په ځینو مادوکې تعدیل او ایزاد

**لومړۍ ماده:**

د۱۳۹۳ کال په (۱۱۴٦) گڼه رسمي جريده کې خپور شوي د تروریزم له تمویل څخه د مخنیوي د قانون د پنځمې مادې (۱) فقرې (۷) جزء، د نهمې مادې (۱) فقره، د یوولسمې مادې د (۵) فقرې (۱) جزء دې په لاندې متنونو تعدیل شي:

۱- دپنځمې مادې د (۱) فقرې (۷) جزء:

۷- ددې قانون د څلورمې مادې په (۲) جزء کې درج شوي جرمونه چې د یوه عمل اجراء یا نه اجراء ته د افغانستان دولت د اړ ایستلو په قصد یې صورت موندلی وي.

۲- د نهمې مادې د (۱) فقرې متن د هغې د (۱) جزء تر پیل پورې:

(۱) واکمنه محکمه په خپله یا د څارنوال د غوښتنې له امله د وجوهو یا شتمنیو

## تعدیل وایزاد در برخی از مواد قانون جلوگیری از تمویل تروریزم

**مادۀ اول:**

جزء(۷) فقرۀ (۱) مادۀ پنجم، فقرۀ (۱) مادۀ نهم، جزء(۱) فقرۀ (۵) مادۀیازدهم قانون جلوگیری ازتمویل تروریزم منتشرۀ جریدۀ رسمی شماره (۱۱۴٦) سال ۱۳۹۳ به متون ذیل تعدیل گردد:

۱- جزء(۷) فقرۀ (۱) مادۀ پنجم:

۷- جرایم مندرج جزء (۲) مادۀ چهارم این قانون که به قصد وادار نمودن دولت افغانستان به اجراء یا عدم اجرای یک عمل صورت گرفته باشد.

۲- متن فقرۀ (۱) مادۀ نهم تا شروع جزء (۱) آن:

(۱) محکمۀ ذیصلاح خود یا به اثر درخواست څارنوال، در ارتباط با جرم

مالک یا ذینفع شخص ته له د مخه خبر ورکولو پرته د تروریزم د تمویل له جرم سره په تړاو (ارتباط) کې، په لنډ وخت کې لاندې اقدامات تر سره کوي:

۳- د یوولسمې مادې د (۵) فقرې (۱) جزء:

هغه وجوه او شتمنۍ چې په مستقیمه یا غیر مستقیمه توګه ددې مادې په (۱) فقره کې د درج شوو هغو سازمانونو یا اشخاصو په واسطه چې ددې قانون د لسمې مادې مطابق د تعزیراتو په لست کې شامل شوي دي، کنترولېږي.

**دوه یمه ماده:**

لاندې متن دې د یوولسمې مادې د (۷) فقرې د (۱۳) جزء په توګه ایزاد شي:

۱۳- د ډله ییزې وژنې دوسلو د تولید او لېږد له تمویل سره د مبارزې څرنګوالی.

**درېیمه ماده:**

دغه تعدیل او ایزاد د توشېح له نېټې څخه نافذ او په رسمي جریده کې دې خپور شي.

تمویل تروریزم، بدون اطلاع قبلی به مالک وجوه یا دارایی یا شخص ذینفع به اسرع وقت به اقدامات ذیل متوصل می شود:

۳- جزء(۱) فقرهٔ (۵) مادهٔ یازدهم:

وجوه و دارایی های که طور مستقیم یا غیر مستقیم توسط سازمان ها و اشخاص مندرج فقرهٔ (۱) این ماده یا اشخاصی که طبق مادهٔ دهم این قانون در لست تعزیرات شامل شده اند، کنترول می گردد.

**مادهٔ دوم:**

متن ذیل به حیث جزء (۱۳) فقرهٔ (۷) مادهٔ یازدهم ایزاد گردد:

۱۳- چگونگی مبارزه با تمویل تولید و انتقال سلاح های کشتار جمعی.

**مادهٔ سوم:**

این تعدیل وایزاد از تاریخ توشیح نافذ و در جریدهٔ رسمی نشر گردد.